


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



## الحاج عبدالمجيد « نقيبي »

د نشر نيټه : 29 جنورى 2015 م

# د زړه چيغه

لاترڅو به په سرو وينو دا نړۍ وي
لا تر څو به د غمونو دا لړۍ وي
د تيري او د ستم په تلا تم کې
چا د چا له لاس شکولې به مړۍ وي
څوک به ژاړي نن په غم د نازولو
د چا رنګه به په وينو غاړه کۍ وي
دا بې غمه بډايان په خپل چړچو کې
د غريب سره به نه پيسه ، ډوډۍ وي
څوک راحت به وي ويده په خوړ بسترکې
کوم يتيم به له يخنۍ نه په سلګۍ وي
اى ظا لمه ستمګره څه به وکړې
هغه ورځ چې دا لاسونه اوستا مرۍ وي
لا تر څو به د غمو نو په موجوکې
اوږد مزل به وي او دا ماته بيړۍ وي
د ا فغا ن ولس غمونه اى نقيبه
لا تر څو به درسره غاړه غړۍ وي
***
عبدالمجيد « نقيبي »
بروول – کلن – جرمني

بازګشت به صفحه اصلى www.said-afghani.org